مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدمعصوم هوتک

۲۰۲۵/۰۹/۲۱

# د تن شمع مي سوځي

## (د کورونا ناروغۍ د وختو يادابنت)

د کورونا د يوازيتوب او کوټه قلفۍ! په شپو ورځوکي مي د "سخن" مجلې پخوانۍ ګڼي لوستلي. په افغانستان کي مي هم لوستلو ته وخت ورايست."سخن" مجله په فارسي ژبه د ايران له ډېرو معتبرو ادبي او علمي مجلو څخه وه چي بنسټګر ئي پرويز ناتل خانلری ( ۱۹۱۳ ــ ۲۰۰۰ع) او لومړی د امتياز څښتن ئي ذبيح الله صفا (۱۹۱۱ ــ ۱۹۹۹ع) وو. دا مجله له ۱۳۲۲ش = ۱۹۴۳ع څخه تر ۱۳۵۷ش = ۱۹۷۸ع پوري له يوې وقفي سره وچلېده. پروېز ناتل خانلری اديب وو، ژبپوه وو، شاعر وو او سياستمدار وو. ليکنو ئي د فارسي ژبي په ټولو حوزو کي لوستونکي درلودل او نړيوال هم ورسره بلد ول. د "سخن" مجلې سرمقالې دده په قلم ليکل کېدلې او آموزنده مطالب لري. د ۱۳۵۱ش کال د شپږمي ګڼي سرمقاله ئي د صادق هدايت (۱۹۰۳ــ ۱۹۵۱ ع) اويايمي کليزي ته وقف کړې ده او ليکلي ئي دي چي که هدايت ژوندی وای، موږ به ئي همدا اوس اويايمه کليزه نمانځلای. په دې ليکنه کي ئي د ده څو خاطرې او له مجلې سره د همکارۍ په باب يو لږ ټکي بيان کړي دي. ليکنه ئي د يوه انګليسي شاعر د کوم شعر په ژباړه پای ته رسولې ده چي غالباًبه دپرويز ناتل خانلري خپله ترجمه وي:

**گر شمع وجـودم از دو سر مـی سـوزد**
**تـا ظـــن نـبـری کـه بی ثـمر می سـوزد**

**شب را نرساند به سحر ليـک ای دوست**
**بـنـگر کـه چه با فـروغ و فر می سوز**

دې څلوريځې نه پوهېږم ولې پر ما اغېزه وکړه او سره له دې چي اصلي شاعر ئي راته معلوم نه وو، خو پښتو بڼه مي داسي پر خوله راغله:

**د تـن شـمـع چي مي سوځي له دوه سره**
**هسي خـوشـي ئـي مــه بـ ولـه بـــي ثـمـره**

**کړی شپه ئي سرې لمبې تر سر تاوېږي**
**گوره! سـوځي پــه څه مينه، د زړه سره**

ما ۱۴۰۰هـ ش کال او نوی قرن په همدې ليکنه پيل کړ. دا نو را معلومه نه ده چي له دې قرن سره به څو ورځې، که څو مياشتي او که څو کاله ملګرتيا وکړم؟

آشاوا ــ کاناډا د مارچ ۲۲مه ۲۰۲۱ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ